# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com    www.afgazad.com

| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |
|---|---|

محمد هارون خپل شعشعی
۱۹ دسمبر ۲۰۱۱

## د
# علی محمد مخلص
# عرفانی فرهنگ
### د محمد هارون خپل شعشعی
### لیکنه او څیړنه
### ۲۸

**۷۵- د فطرت عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندې د جبروت عالَم**

**۷۶- د قوت عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندې د جبروت عالَم**

**۷۷- د کالبوتو عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » ترسرلیک لاندې د ملکوت عالم**

**۷۸ - دکایناتو او انسان دپیدایښت نظریه :**

په اسلامي تصوف او عرفان کې د کایناتو او انسان د پیدایښت په اړه پراخې او اوږدې خبرې کیږي . په دې بحثو کې زیاتره دلایل د سپیڅلي قرآن د مؤمنون د سورې د یوسلو پینځلسم آیت ( ۲۳: ۱۱۵) پر محور راګرزي . په دې مبارک آیت کې داسې حُکم سوئ دئ : « افحسبتم انما خلقنکم عبثا و انکم الینا لا ترجعون » یاني ګومان کوئ، چې تاسې مې بې ځایه ( د لوبو او ننداري په خاطر) پیدا کړي یاست؛ او د حساب دپاره ماته نه راستنیږئ؟ په دې توګه، ګورو چې زموږ په دې پراخو او ناپایه کایناتو کې هر موجود د یوه ټاکلي هدف او مقصد دپاره پیدا سوئ دئ . د ذاریات د سورې په شپږ پینځوسم آیت ( ۵۱ : ۵۶) کې عبادت د انسان د پیدایښت د اصلي او اساسي هدف په توګه بیان سوئ دئ . « وما خلقت الجن والانس الا لیعبدون » یاني ما پیریان او انسانان د دې دپاره پیدا کړل، چې زما عبادت وکړي . عارفان باور لري، چې د انسانانو د پیدایښت دا ستره موخه او مقصد یوازې هغه مهال تر سره کیږي، چې انسان تر هر څه مخکې خپل ځان او خالق وپیژني؛ په بله ژبه د عرفان او معرفت په روښنانه لمر سترګې رڼې کړي .

د تصوف او عرفان ځیني متفکران په دې باور دي، چې ښکلا او مینه د پیدایښت بنسټ دئ . د حضرت حق ذات د کایناتو تر پیدایښت مخکې هم معشوق ؤ هم عاشق . ویې غوښتل، چې د خپل ښایست او جمال انوار ځرګند کړي؛ ځکه یې نوکاینات د خپل ذات د ښایست هینداره وګرځوله [۱] .

د اسلامي تصوف او عرفان وتلى مفکر- شیخ عزیزالدین بن محمد نسفي ( ۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق ) په خپل لوړ عرفاني اثر « الانسان الکامل » کي د انسان د پیدایښت په باب لیکي : « د انسان د پیدایښت پیل یو جوهر دئ . د انسان ټولي ځانګړني او خويونه په همدې جوهر کي نغښتي دي؛ او ګرده پر خپل وخت ښکاره کیږي . دا جوهر د انسان د پیدایښت نطفه ده . د انسان نطفه هم لیکوونکی هم قلم، هم مشوانی، هم لیک او هم لوستونکي ده . د انسان نطفه د کوچني عالَم لومړنی جوهر او د دغه عالَم ذات او زړه دئ . د میني او عشق عالَم په حقیقت کي همدغه کوچنی عالَم دئ . نطفه پر ځان مینه ده؛ نو ځکه غواړي خپل ښایست و ګوري؛ خپلو صفتونه او نوموته نظر وکړي . په دې توګه، نطفه د لنډیز یا اجمال له عالَم څخه د بشپړتوب یا تفصیل عالَم ته ځي . د نطفي په نامه دا جوهر تر پر مختګ او بشپړتیا وروسته د څلورو عنصرو او څلورو طبیعتوپه بڼه څرګند سول[۲] . شیخ نسفي، په خپل بل نامتو اثر « کشف الحقایق » کي د انسان د پیدایښت په اړه د شریعت او حکمت د پلویانو نظریې بیان کړي دي . د ده د بیان له مخي، د شریعت پلویان په دې باور دي، چي خدای تعالی ترټولومخکي جوهر پیدا کړ؛ لکه څنګه چي وايي : « ما خلق الله الدرتة » او د دې جوهر لویښت بې خدایه بل هیڅوک نه پېژني [۳]. د حکمت د فلسفي پلویان وايي : « هغه جوهر عقل ؤ، چي خدای تعالی تر هرڅه مخکي پیدا کړ : اول ما خلق الله عقل[۴]. »

د پښتنو عرفاني او ولسي لارښود - بایزید روښان اورمړ ( ۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق) د کایناتو د پیدایښت په باب د اسلام د ستر پیغمبر - حضرت محمد ( ص ) دې مبارک حدیث ته ګوته نیسي : « اول ما خلق الله تعالی نورئ » یاني لوی څښتن تر هر څه مخکی، زما نور پیدا کړ[۵] .

زموږ سترګه ور عرفاني شاعر، علي محمد مخلص، هم په خپله عارفانه شاعری کي دکایناتو او انسان د پیدایښت په هکله خورا ژوري او دقیقي نظریې وړاندي کړي دي . هغه، په یوه ښکلي غزله کي دکایناتو د پیدایښت عرفاني او فلسفي نظریه داسي تصویریي :

داجهان ګوره نیستي مولا هستـي ده
لـه نیستیيه شه ظاهر د جانِ جـان مخ
داعالم کُل له نیستیيه څرګند شـوئ
دا نیستي عینِ هستي وینم تابان مخ
نور هستي، ظُلمت نیستي ده که باور کړې!
له ظُلمته شه ښکاره د نور روښان مخ
هستي پټه په نیستی کي ده یقین کـړه!
په صورت دننـه ځي یي د روان مخ
د نیستی په شراب مست شه وبه ګـوری!
په عدم کښي بې زواله جاويـــدان مخ

مخلص، د قرآن کریم د مؤمنون د سورې د یوسلو پینځلسم آیت ( ۲۳: ۱۱۵) « افحسبتم انما خلقنکم عبثا. . . » په تفسیر کي خورا ژور او په زړه پوري بیان وړاندي کيي :

د حکیم فعل هرګز بې حکمت نه وي
د دانا په عبث کار سروکار نشته
دا عالم چي طلسمات یا خیال یي بولي

د عارف په دا دنیا اعتبار نشته

هر صورت بې معنی نه دئ که باور کړې!

په هر تن کې معنی پټه، اظهار نشته

باطن بین په هر صورت کښې معنی ګوري

بې اوبو په دا جهان کښې ګلزار نشته

د همدې غزلې په ځینو نورو بیتوکې معرفت او عرفان ته، د انسان د پیدایښت د تر ټولو لومړي او اساسي عنصر په توګه ګوري :

چې پر دا جهان له ژونده خبر نشه

په جهان تر ده بې عقل، حِمار نشته

د خپل ژوند دانش تر کُل دانش بهتر دئ

تر دا بِه دانش که غواړې تیار نشته

د خپل ځان عرفان د حق عرفان دئ قطعي

د نادان په دا ګفتار کاروبار نشته

د حیات رشته نږدې تر ښارګونو

له ژوندونه ډېر عالَم خبردار نشته

د بې حد ناله په هر کور کې بهېږي

نابینا وهي ناره چې انهار نشته

په یوه بل ښکلې عرفاني او فلسفي تصویر کې انسان د هغه ناپایه بحر ماهی ګڼي، چې حیات او ممات یې ټول د هغه په اوبو دئ :

ز زنده حیات په یم یـــې!

له دې غم ولـــې بې غم یې!

ته ماهی د دغه یم شـوې!

هم پې هست هـــم پـې خُرم یې!

تمام ژواک دې په دا بـحر

هم پې ځای هم پې محـکم یې!

روح په دې دریاب اوبـه دي

که دي و پـېژاند آدم یې !

څو دغه اوبه جــاري دي

پې زنده هم پې ملهم یـې!

چې قراري دا اوبـه شي

مات، شکست، خراب، عـدم یې!

ته ځان روح ګڼه نادانـه!

په صورت سره صنم یې!

مخلص، د پروردګار په وجود کې د عاشق او معشوق عرفاني مسأله داسې سپړي :

له غیرته یي کُل غیر بر طرف که

په ښېر لوري شه موجود ګلزار زما

د عاشق و معشوق نوم یي پر ځان کېښود

پر خپل ځان باندي شیدا انوار زما

مخلص، د حق تعالی ازلي او ابدي، ناپایه او بې مثله هستي داسي دریاب بولي، چي ګرده عالمونه او په هغو کي نغښتي موجودات، د ځګو او کوبیبو په څېر په هغه کي ژوند کيي؛ هر څه له همدي دریابه پیدا سوي؛ او هر څه په هغه پایي؛ په هر ه څپه کي یي نوي نوي موجودات او مخلوقات دکایناتو پر مخ ګام ایږدي :

ج جُمله عالَم حُــباب دئ

ذات و بود یي په دریاب دئ

په بله غزله کي بیا هم د مادي عالَم د نېستئ او د ذوالجلال د مبدأ او معاد مسألي داسي اشاره کيي:

کُل اشیا د ربنا په هستئ هســت دي

بې هستیه دي روان واړه مرنـا ته

هر موجود له ځانه نېست په جانا هست دئ

دی اثبات، ثابت پر حق نفي له تا ته

په یوه پاړسي مثنوي کي د بېلابېلو مخلوقاتو په پیدایښت کي د حق تعالی حکمتونه داسي بیانیي :

» . . . هر دو کون زنبور خورد از یک محل

لیک زین شد نیش و ز آن دیگر عسل

هر دوکون آهوگیـاه خوردند آب

زین یکی سرگین شد ز ان مشک ناب

هر دونی خوردند از یک آب خوره

آن یکی خالی و آن پر از شـکر

صد هزاران همچنین اشبـاه بین

فرق ایشان هفتاد سال راه بین . . . ۶ «

د کایناتو په ټولو مخلوقاتو کي د انسان د لوړ عرفاني مقام او ستر رسالت په باب خپل عارفانه او عالِمانه استدلال داسي وړاندي کيي :

که له ذاته اشنـا نشي!

دځنګله تر لېوه کم یـي!

ته مظهر د کل عالَم شـوی!

هم د دوو کونو عَلَم یي!

دا ستا ذات قدیم دریــاب دئ

ته په ذات باقي قدم یـي!

روح صورت مثال حشم شـه

ته بادشاه د دې حشم یــي !

انساني کمیس دي واغسـت

ته بزرګ شوی پـه کرم یې!

حق خپل ذات لره پیـدا کـړی!

ته صاحب د خپل خدم یې!

د نور مالومات دپاره وګورئ : د « عالَم او دهغه ډولونه » تر سرلیک لاندي بېلابېل عرفاني عالمونه، دحیوان بحر، د محیط بحر، دونیا، عقبا او مولا، عرفان او معرفت، هستي او نېستي او داسي نور .

لمنلیکونه

١ یثربی ۴٧ .

٢ نسفی، انسان الکامل ١٧ .

٣ نسفی،کشف الحقایق ۴٣.

۴ نسفی، کشف الحقایق ۴۵ .

۵ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ١۶۵ .

۶ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ٧١۴.